مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سید عبیدالله نادر

۲۰۱۹/۰۵/۲۰

# د نفرتونو تیارې

چی بد نیته ، په ماحول کې ، آشنایان شي
په هغه چاپیر کې ژوند ، په سړي ګران شي

معرفت ځراغ شي مړ په هغه خلکو
چي نا اهله يي په ملک کې واکداران شي

له هغه ماحول به جوړ، ګور او دوزخ شي
چي ظالم او مستبد يي ، حاکمان شي

قافله د انسانیت رسي ، منزل ته
که سالار د قافلي دردمن مشران شي

نفرتونو ځای به ډک، په محبت شي
که روښانه زړه ضمیر د هر انسان شي

سعادت بیړي به ، ورسی ساحل ته
سمندر په رمز که پوه ، ناخدایان شی

د زړه ویني تویول ، دلته پّه کار دي
تر څو دا ویجاړ ډاګونه ، ګلستان شي

حقیقت کې مو درمان د درد ، همدا دی
چي سمبال په علم و فن زمونږ ، بچیان شي

دا تیارې د نفرتونو به شي، لیري
د حکمت په نور که زړونه مو روښان شي

ربه!طور د معرفت دلته راخورکړي
چي د ځمکي په مخ ، واړه دانایان شي

دا تیارې په رڼایي کړې ، رابدلي
چي له مخي نه مو لیري دا دیوان شي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ